بسم الله الرحمن الرحيم

# جريده ميــــزان

د ستري محکمې کاري څرګندويه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۹ غويی ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۲ ذو القعدة الحرام ۱۴۴۷ هـ ق | ۹ می ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۳۳)


## د ستري محکمې د قضائي معاونيت د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د ستري محکمې قضائي معاونيت د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې عمده فعاليتونه په لاندې ډول دي:

۱. د افغانستان اسلامي امارت له بېلابېلو ادارو څخه په مجموع کې (۶۲۵) مکتوبونه د هدايت غوښتنې لپاره قضائي معاونيت ته راغلي، چې د قضائي معاون صاحب له هدايت وروسته اړوند مراجعو ته استول شوي دي.

۲. د قضائي معاون صاحب د هدايت پر اساس د مختلفو موضوعاتو په هکله (۵۳۲) مکتوبونه غوښتونکو مراجعو ته صادر شوي دي.

۳. (۱۹۵) تعزيراتي دوسيې د قضائي معاون صاحب تر تائيد يا تعديل وروسته اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

٤. (۲۳۵۹) عريضې د حقوقي او قضائي غوښتنو لپاره راغلي، چې د قضائي معاون صاحب له هدايت وروسته پرې احکام صادر او اړوند اصحاب دعوی يا مراجعو ته سپارل شوي او (۶۷۹) عريضې مستردې شوې دي.

## د ستري محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د ستري محکمې عالي مقام دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال د درېيمې ربعې عمده فعاليتونه په لاندې ډول دي:

۱. د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم او د قاضي‌القضات او د ستري محکمې د محترم رئيس صاحب د هدايت پر بنسټ، د نېکمرغه کوچني اختر په مناسبت (۹۰۰۳) محبوسينو ته عفوه وشوه يا د بند په موده کې تخفيف ورکړل شو.

۲. له محاکمو، وزارتونو او خپلواکو امارتي ادارو څخه راغلي د بېلابېلو موضوعاتو په هکله (۲۶۸۴) مکتوبونه او وړانديزونه د ستري محکمې عالي مقام تر هدايت وروسته يادو مراجعو ته لېږل شوي دي.

۳. د رؤيت هلال مرکزي هيئت درې غونډې، د تعليمي نصاب هيئت (۱۲) غونډې تنظيم او ترسره شوې دي.

٤. د ستري محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رئيس له لسګونه مراجعينو سره د دوی د مشکلاتو د اورېدو او حل په موخه کتلي دي، يا يې د اړتيا پر مهال د ستري محکمې له محترم رئيس او قاضي‌القضات شيخ صاحب سره د دوی د ملاقات زمينه برابره کړې ده.

## د ستري محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې لنډ راپور

د ستري محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱- د وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسيونونو، د ملک (۳۴) ولايتونو محاکمو او نورو اړونده ادارو څخه (۶۷۳) رسمي ليکونه د ستري محکمې په عنوان راغلي او د ستري محکمې عالي مقام له لارښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د وروستيو اجراآتو په موخه تکثير شوي دي.

۲- د مخابراتو وزارت څخه (۱۴۷۲) رسمي ليکونه راغلي او د بعدي اجراآتو په موخه اړوند څانګو ته تکثير شوي دي.

۳- د رياست الوزراء محترم مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غير امارتي بانکونو او د ستري محکمې مرکزي رياستونو څخه (۸۰۳) مکتوبونه، د استهداء دوسيې، تجديد نظر، د صلاحيت تفويض، د محکمې تبديلي او د ملک د محاکمو هدايت غوښتنې اړوند اسناد د ستري محکمې عالي مقام په عنوان راغلي؛ چې د عالي مقام له لارښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د ورستيو اجراآتو په موخه لېږل شوي دي.

۴- ټولټال (۱۴۲۱۹) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د آرشيف مديريت ته صادر او وارد شوي، چې تر لازمو اجراآتو وروسته د وروستيو اجراآتو په موخه اړوندو برخو ته لېږل شوي دي.

۵- د مراجعينو (۱۴۸۱) عريضې د عالي مقام د هدايت له مخې ثبت او بېرته اړوند کسانو ته سپارل شوې؛ هغه عريضې چې غير اصولي او محاکمو پورې اړوند نه وې، په اړه يې مراجعينو ته لازمه لارښوونه شوې.

۶- د (۲۳۱) مکتوبونو په اړه د ستري محکمې عالي مقام له هدايت سره سم رسمي اجراآت شوي او د وروستيو اجراآتو په موخه اړوند امارتي ادارو ته لېږل شوي دي.

۷- د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) او د رياست الوزراء محترم مقام لهخوا ټولټال (۲۵۳) قطعې احکام ياد رياست ته راغلي، چې د ستري محکمې عالي مقام د هدايت له مخې د تطبيق او اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوي دي.

۸- د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لهخوا (۹) قطعې فرمانونه ياد رياست ته راغلي، چې د ستري محکمې عالي مقام له هدايت وروسته د تطبيق او وروستيو اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوي دي.

## د ستري محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې لنډ راپور

د ستري محکمې پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۷هـ ق په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱. د ستري محکمې د مرکزي رياستونو سربېره د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو، تميزونو، ښاري ابتدائيه محاکمو، ولسواليو ابتدائيه محاکمو او د حقوقو آمريتونو د اجراآتو راپورونه راټول او له تحليل، ترتيب او توحيد وروسته اړوندو ادارو ته د اجراآتو په موخه لېږل شوي دي. دغه راز د ښځو د ميراث او ملکيت د حقونو په اړه ځانګړي راپورونه هم په ټاکل شويو وختونو کې راټول او ادارو ته لېږل شوي دي.

۲. د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو د يوې ربعې د حاضرۍ راپورونه راټول او له توحيد وروسته اړوندو ادارو ته د بعدي اجراآتو په موخه لېږل شوي دي.

۳. د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) او د رياست الوزراء عالي مقام د (٤٠) قطعه احکامو راپورونه راټول؛ له ترتيب او توحيد وروسته له اړوند مقاماتو سره د بعدي اجراآتو په موخه شريک شوي دي.

٤. د تطبيقي پلان له مخې د مرکزي رياستونو ټول فعاليتونه په حضوري ډول نظارت شوي دي، د نظارت پروسې تر بشپړېدو وروسته يې راپورونه ترتيب او له اړوندو مقاماتو سره شريک شوي دي.

٥. د پراختيايي پروژو د پرمختګ، خنډونو او ستونزو راپورونه د اقتصاد وزارت په همغږۍ ترتيب او شريک شوي دي.

٦. په جنګلک سيمه کې د قضاتو لپاره د (۲۰) کورونو د جوړولو پروژې، د جنګلک پروژې د ساختماني موادو لابراتواري ازموينې او کنټرول، د ستري محکمې په انګړ کې د نظامي منسوبينو لپاره د دوه منزله تهکوي تعمير د کانکريټ او سيخګول ازموينې، د آرشيف لپاره د فلزي الماريو د جوړولو پروژې او د ابتدائيه محکمې اړوند د ترانسپورټ لپاره د ورکشاپ د جوړولو دوامداره څارنه او نظارت ترسره شوی دی.

**د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**نهمه برخه:**

**د عمر ﷺ مکتوبات:**

د قضاء په نظام کې عمر ﷺ يو ډېر پياوړی قانون وضع کړ، چې د همدې قانون شرح او تعليق ته د اسلامي فقه نوموتو علماوو ځانګړې پاملرنه وکړه، د قضاء اړوند دا عمري قانون موږ ابو موسی اشعري ﷺ ته په ور لېږل شوې رساله کې موندلی شو، چې يادې رسالې د قضاء ډېر عجيبه او حيرانوونکي آدابونه او د محاکمو اصول رانغاړلي.
که په اوس وخت کې د يوه دولت واکمن او امير په دې ډول کومه رساله وليکي، چې د محاکمو اصول يې په همدې توګه راوړي وي، دا به ډېره لويه ډنډوره شي او همدا واکمن به د نړۍ له لويو مفکرينو او علماوو څخه وشمېرل شي؛ خو ته فکر وکړه، چې عمر ﷺ څوارلس پېړۍ وړاندې څه ډول وليکل؟ سره له دې چې له هېڅ کوم کتاب څخه يې نه دي را نقل کړي او نه يې د هېچا قول را اخيستی دی؛ بلکې دا د همغه ذهن پايله او ثمره وه، چې الهام يې له داسې زړه څخه اخيسته، چې رسول الله ﷺ دا ثمره هغه وخت په کې کښت کړې وه، کله چې دی د ارقم کور ته ور ننوتلو او وويل: شاهدي ورکوم چې له الله ﷻ پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد ﷺ د هغه رسول دی؛ نو دا د رسول الله ﷺ له معجزو څخه شمېرلی شو.

اخذليک: د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۶۷ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه ترسره کړي دي:
د دارالانشاء عمومي رياست په درېيمه ربعه کې د محاکمو د تبديلۍ په برخه کې (۵۰۱) عرايضو، د استهداآتو اړوند (۱۱۲) موضوعاتو، د تجديدالنظر (۳۴۰) موضوعاتو، د تنازع صلاحيت (۳۹) موضوعاتو او (۲۲۲) متفرقه موضوعاتو ته پر رسېدنه سربېره (۱۱) متحدالمآلونه ټولو محاکمو ته لېږلي دي.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱- د خوست، فراه، بلخ او لغمان ولايتونو د محاکمو اجراآت د قضائي مفتشينو لخوا وڅېړل شول او راپورونه يې د راتلونکو هداياتو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شول.

۲- د قضائي تفتيش عمومي رياست له اساسي دندو څخه د سترې محکمې عالي شورا د مصوباتو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو دوامداره نظارت دی، چې د مفتشينو له خوا په دې ربعه کې ياد نظارت ترسره شوی دی.

۳- ربعوار او کلني راپورونه، چې د ولايتونو له محاکمو څخه راټول شوي؛ د قضائي مفتشينو لهخوا د عادي څېړنو پر مهال وڅېړل شول، تفاوتونه او علتونه يې تشخيص او اړوندو مسؤلينو ته لازمې لارښوونې وشوې.

۴- په دې ربعه کې قضائي پلټونکو د محاکمو د عادي څېړنو پر مهال يو شمېر قضائي، اداري او خدمتي مسؤلينو ته لازمې لارښوونې وکړې؛ تر څو پر اسلامي امارت او محاکمو د خلکو باور لا زيات شي، مسؤلينو ته جدي او لازم هدايتونه وشول، تر څو د خلکو شکايتونو ته د اصولو سره سم او پر وخت رسېدنه وکړي.

۵- په دې ربعه کې (۱۹۵) اقتضائي عريضې ثبت شوې؛ له دې جملې څخه (۱۳۰) عريضې څېړل شوې او پاتې تر اجراآتو لاندې دي.

۶- د ولايتونو محاکمو او محبسونو د عادي اجراآتو د څېړنې پر مهال د خوست، بلخ، لغمان او فراه ولايتونو د زندانونو څېړنه شوې، د محبوسينو نظرونه او غوښتنې ثبت، ورته د رسېدنې په موخه د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو او نورو اړوندو مراجعو سره شريک شول.

## د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه ترسره کړي دي

د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱. د (۲۵۸) جزائي، مدني، تجارتي موضوعاتو، وثايقو، متفرقه استهداآتو، قضائي تفتيش عمومي رياست د راپورونو، عارضينو د عريضو او نورو اړوند مواردو په اړه تدقيقي نظريات ورکړل شوي دي.

۲. د مرکزي زون نظامي محکمې د اداري فساد قضيو ته د رسېدنې طرزالعمل، د سترې محکمې د تميز عمومي رياست د جزا دېوان طرزالعمل، د قضائي غړو د سلوک طرزالعمل، د مهرونو د جوړولو او کارولو طرزالعمل، د بانکونو د پخوانيو پورونو اړوند د اختصاصي محکمې طرزالعمل، د محاکمو د قضائي غړو د سلوک طرزالعمل، د سترې محکمې د اداري کارکوونکو طرزالعمل، د سترې محکمې له کلتوري مرکزونو څخه د ګټې اخيستنې طرزالعمل، د بهرنيو وکالت خطونو د قضائي قرار صادرولو لپاره طرزالعمل، د قضائي تدقيق رياست د فعاليتونو لايحې، د مطالعاتو رياست اړوند د لايحې کتاب، د تحريراتو لايحې او د عقاري ملکيت د اسنادو د دوراني فورم لپاره لارښود تر غور لاندې نيول شوي او د وروستيو اجراآتو او تائيدۍ په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي.

۳. پر خبر عدل، قرينې يا اقرار بناء جزائي موضوعاتو لپاره اصول ترتيب او د تائيد په موخه د سترې محکمې محترم عالي مقام ته ولېږل شو.

## د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېيمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق په درېيمه ربعه کې لاندې عمده فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱ـ په ځينو خاصو مواردو کې (۹۶۲۳۲) افغانۍ عايدات راټول او د امارت خزانې ته انتقال شوي دي.

۲ـ د متحدالمآل نمبر (۲۴۹۲) مورخ، ۱۴۰۴/۸/۹هـ ش په اساس د ۴ تنو فوتي او بېبرخليکه کارکوونکو د تقاعد ۸٪ حقوق حواله او تاديه شوي دي.

۳ـ د کابل ولايت د څلورو زونونو اړوند محاکمو کې د دفترونو ترميم او رنګمالي ترسره شوې ده.

٤ـ د مراجعينو د اسانتيا لپاره د ښځو او نارينهوو جلا سايه بانونه، د ننوتلو او وتلو منظمې لارې او د انتظار غرفې جوړې شوې دي.

٥ـ د استوګنې د (۱۰) کورونو پروژه تر شاوخوا ۸۰٪ پورې تطبيق شوې ده.

٦ـ د آرشيف مديريت لپاره د اسنادو د معياري ساتنې په موخه ۲۷ فلزي الماری جوړې او ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي.

٧ـ د وسايطو د ترميم او ترانسپورتي چارو د لا چټکتيا په موخه ځانګړی ورکشاپ جوړ او فعال شوی دی.

٨ـ د سروبي ابتدائيه محکمې لپاره ۱۱,۸ کيلوواټه سولري سيستم د بديلې انرژۍ د کارونې په موخه نصب او فعال شوی دی.

٩ـ د ښاري ابتدائيه محاکمو د حفظ الصحې د وضعيت لا ښهوالي په موخه د ضرورت وړ ځايونو اساسي ترميمات ترسره شوي دي.

١٠ـ د هلمند، کندهار د (کښته ميوند) او کاپيسا ولايتونو د ابتدائيه محاکمو د ودانيو لپاره ابتدائي براوردونه او نرخ ګيري ترسره شوي دي.

١١ـ د سترې محکمې په انګړ کې د محافظتي قطعې د مجاهدينو د استوګنې لپاره د دوه منزله تعمير پروژه شاوخوا ۲۰٪ تطبيق شوې ده.

١٢ـ د ملک په کچه محاکمو او قضاتو ته ټرانسپورتي اسانتياوې برابرې شوې، د اړتيا پر بنسټ وسايط له مرکزي پارکينګ څخه اړوندو ادارو ته توزيع شوي، د وسايطو لپاره تېل، روغنيات، پرزې او نور تخنيکي تجهيزات په دوامداره توګه خريداري، اکمال او توزيع شوي دي او سربېره پر دې، خوراکي او غيرخوراکي توکي هم اړوندو واحدونو ته رسول شوي دي.

١٣ـ د مالي او اداري چارو عمومي رياست ټولټال ۲۴۳ قطعې مکتوبونه د بېلابېلو مهمو او اړينو مالي او اداري موضوعاتو په تړاو صادر کړي دي، ۸۷ حوالې مرکزي رياستونو ته او ۳۶ حوالې د خريدارۍ اجناسو لپاره ورکړل شوي دي، ۴۱ حوالې ولايتي محاکمو ته او ۷۴ مطبوع حوالې مرکزي او ولايتي ادارو ته توزيع شوې دي او سربېره پر دې د ټکنالوژۍ اړوند ۲۹ حوالې صادرې شوې دي.

١٤ـ د (۲۵۷۵) ناروغانو درملنه شوې؛ له دې جملې (۱۵۴) ناروغان تخصصي روغتونونو ته راجع شوي، (۲۴۶۳) ناروغانو ته اړينې دواګانې توزيع شوې دي، (۹۱۶) ناروغانو ته لابراتواري معاينات ترسره شوي دي او (۱۰۸۵) ناروغانو ته نرسنګ خدمات، لکه: پانسمان، زرقيات، سيروم، اکسيجن تراپي او د زړه ګراف وړاندې شوي دي.

## د پکتيا زون نظامي محکمې مسؤولينو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د پکتيا زون نظامي محکمې رئيس شيخ عبدالجليل آغا (حسيني) او قضائي غړو په ډېرو هڅو او ترغيب، د قومي مشرانو، سپينږيرو او مصلحينو په منځګړيتوب، د عمدي قتل موضوع، په ۸/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه حل او فصل شوه.

ياده موضوع د لوګر ولايت برکي برک ولسوالۍ په «لعلکخېلو» کلي کې رامنځته شوې وه او يو ملکي کس په کې وژل شوی و.

دغه موضوع د پکتيا زون نظامي محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، وروسته د يادې موضوع په اړه د پکتيا زون نظامي محکمې قضائي هيئت له خوا جانبينو ته د سولې ترغيب وشو، چې په پايله کې جانبين سولې ته چمتو شول.

د مقتول کورنۍ تر رضايت وروسته د يوې غونډې په ترڅ کې چې قومي مشرانو، سپينږيرو او مصلحينو هم په کې ګډون درلود، ياده موضوع حل او فصل شوه.

د يادونې وړ ده، چې د مقتول وارثينو ته څه اندازه پيسې ورکړل شوې او په دې سره د عمدي قتل موضوع حل او رسمًا يې دښمني پای ته ورسېده.

## د قضائي تفتيش عمومي رياست مفتشينو د پنجشېر ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم عالي مقام په هدايت د قضائي پلټنې د عمومي رياست يوه مؤظف پلاوي چې محترم مولوي سيف الرحمن (ذاکر) يې مشري کوله او مولوي شمس الدين (احدي) او مولوي کمال الدين (متقي) يې غړيتوب درلود، د روان ١٤٤٧هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام مياشتې په څلورمه نېټه پنجشېر ولايت ته د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

دغه پلاوي په پيل کې د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو د ستونزو د څېړلو په موخه د ياد ولايت له مرکزي زندان (محبس) او توقيفخونو څخه ليدنه وکړه او د ياد محبس او توقيفخونو اړوند ټولو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او اړتياوې يې له ځان سره يادداشت او بيا يې د اړوند محاکمو له مسؤولينو سره شريک کړل.

دغه پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت (۷) ولسواليو د ابتدائيه محاکمو، د حقوقو مديريتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د اسنادو، مخزن، وثايقو او حقوقو آمريتونو څخه جلا جلا ليدنه وکړه.

نومړي هيئت د پلټنې بهير په جريان کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمې لارښوونې وشوې.

هيئت د محاکمو اړوند شته ضرورتونه، کاري خنډونه او نيمګړتياوې له ځان سره يادداشت کړې او په پای کې د اړتياوو د پوره کولو، د خنډونو له منځه وړلو او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه د ياد ولايت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړونده مسايل يې په جلا جلا توګه ورسره شريک کړل.

د پلټنې هيئت د خپل سفر په دوام د ياد ولايت د ولسواليو له ځينو مسؤولينو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړونده موضوعاتو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتيش د پلټنې هيئت ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ١٤٤٧هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام مياشتې په يوولسمه نېټه پای ته ورسېد.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۶۱) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت سمنگان طی دو هفته (از ۲۴/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۶/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۶۱) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۲) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۶۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۵) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۸۷۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۹۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د هلمند ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/۱۰/۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/۱۰/۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۸۷۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۹۶) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۵۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۳۸۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۵) دوسیې فیصله شوې، (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۴۴) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۰۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵۴) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۹۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۳) دوسیه، به تعداد (۱۶۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته (از ۲۴/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۶/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۰۳) دوسیه، به تعداد (۱۶۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۳) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۶۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۰۶۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۱۰/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۱۰۶۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۵۶) نکاح خطونه، (۱۱) زوجیت خطونه او (۲۱) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۸) نکاح خطونه، (۱۱) قبالې، (۹) زوجیت خطونه او (۱۴۶) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۰۴) نکاح خطونه، (۳۸) زوجیت خطونه، (۱۲) قطعې زوجیت خطونه او (۲۰۶) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۴۲) نکاح خطونه، (۱۸) قباله، (۵) زوجیت خط او (۴۲) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۴) نکاح خطونه، (۲۵) قبالې، (۹) زوجیت خطونه او (۶۲) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۴۱) نکاح خطونه، (۱۶) قبالې، (۶) زوجیت خطونه او (۷۹) نوري بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۵۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۲۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د لوګر ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۵۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۲۹) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۱۷۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۰۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۴۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۷۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۳۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۲۹) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۰۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۴۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۳/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۶۰۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۴۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۵۲) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۴۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۹) دوسیې فیصله شوې، (۶۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۰۲) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۸۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۴۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۱۷) دوسیه، به تعداد (۲۰۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ (۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۹۰) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۳۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۰) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۷۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۳) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۲۰۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د سترې محکمې د اداري مرستیال په مشرۍ یوه لوړ رتبه هیئت نورستان ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب په مشرۍ یوه لوړ رتبه هیئت، چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید)، د کارکوونکو چارو عمومي رئیس محترم مولوي سیف الله (آغا)، د قضائي پلټنې عمومي ریاست مسلکي غړي مفتي بخت الله (مدني)، د سترې محکمې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د پراختیایي بودجې عمومي مدیرانو یې غړیتوب درلود؛ په ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د نورستان ولایت د محاکمو له مسؤولینو او منسوبینو سره وکتل.

دغه ناسته چې د مرافعه محکمې په تالار کې جوړه شوې وه؛ د مرافعه محکمې عمومي رئیس، د ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو مسؤولینو، قضائي او اداري غړو په کې ګډون درلود، د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د سترې محکمې اداري مرستیال او د یاد هیئت مشر محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب وینا وکړه وویل، نورستان ولایت ته زموږ د سفر عمده موخې د دغه ولایت د محاکمو د تېرو کړنو بررسي، د مراجعینو دوسیو او موضوعاتو ته په کم وخت او اصولي ډول د رسېدو د لارو چارو پیداکول، د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ لا تقویه او د محاکمو د اړتیاوو تشخیص او ورته رسېدنه ده.

محترم شیخ سعید صاحب په اسلامي نظام کې د محاکمو د ارزښت او مقام په اړه وویل، چې محاکم په نظام کې د زړه حیثیت لري؛ نو ځکه پر موږ تاسو لازمه ده چې دغه مهم ارګان روغ او سالم وساتو، خپلې پرېکړې په ټاکلي وخت د شرعي احکامو او اسلامي امارت د اصولو په رڼا کې صادرې کړو، عدالت تأمین کړو، د مظلوم لاس نیوی وکړو، د ظالم د ظلم مخه ونیسو او مجرمینو ته سزا ورکړو؛ په دې سره به هم الله تعالی راضي کړو او هم به خپل نظام قایم او دایم کړو.

په دې سربېره محترم شیخ سعید صاحب د یاد ولایت د محاکمو مسؤولینو او منسوبینو ته لاندې لارښوونې او سپارښتنې وکړې:

۱ـ د عریضې او شکایت د راتلو په صورت کې دې د مرافعه محکمې عمومي رئیس صاحب اړوند ماتحت محاکمو ته د ارجاع پر مهال د اصولي اجراآتو کلمه نه استفاده کوي؛ بلکې ورته دې ولیکي، که د عارض په عریضه کې درج شوی شکایت حقیقت ولري، په اړه یې د پلان سره سم مشخص اجراآت وکړئ.

۲ـ د لوړو محاکمو له خوا چې کله یوه دوسیه نقض کېږي، د نقض ټول موارد باید ذکر کړي، د نقض دلایل به یې مستند او قوي وي، د ضعیفو دلایلو ذکر کولو څخه به ډډه کوي، تر څو د خلکو دوسیې د ځنډ او ځنډ سره مخ نشي.

۳ـ کوم کسان چې خدمتي وي، هغوی به خپلې دندې په پوره اخلاص او صداقت ترسره کوي.

۴ـ خپلې دندې ته په ټاکلي وخت راځئ او له ټاکلي وخت څخه به مخکې نه ځئ، کله چې درته یو معقول عذر پېښ شي، رخصت به اخلئ او د نه راتګ په صورت کې به حاضري نه امضاء کوئ.

۵ـ خپل کارونه به په صلاح، مشوره او پوره همغږۍ ترسره کوئ.

۶ـ که د مرافعه محکمې رئیس صاحب ته معلومه شي، چې د یوې ابتدائیه محکمې په فیصلو کې په تکراري ډول غیر اصولي اجراآت کېږي؛ په ځانګړې توګه چې د یو ځل نقض وروسته په دویمه فیصله کې هم هماغه نواقص وي، د یادې ابتدائیه محکمې رئیس او غړي دې را وغواړي او د فیصلو ستونزې به ورسره مخامخ شریکې کړي، د هر هغه عمل څخه به ځانونه ساتئ، چې د محکمې یا د محکمې د غړو یا د قضیې د جانبینو د مایوسۍ او زړه ماتوالي سبب ګرځي.


دغه راز د سترې محکمې دغه لوړ رتبه پلاوي د نورستان ولایت د محاکمو قضائي او اداري اجراآت له نږدې وکتل او د یاد ولایت د محاکمو د مسؤلینو او منسوبینو غوښتنې او اړتیاوې یې واورېدې.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د اداري مرستیال په مشرۍ دغه پلاوي د خپل سفر پر مهال د نورستان ولایت له مرستیال والي، علماوو شورا رئیس او نورو امارتي ادارو له مسؤولینو سره هم وکتل، په یادو لیدنو کې د محاکمو د چارو د لا ښه‌والي او له امارتي ادارو سره د همغږۍ د تقویې په موخه لازمې مشورې، سپارښتنې او نظرونه سره تبادله شول.

# با تلاش مسؤلین محکمهٔ نظامی زون بلخ یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش اعضای قضائی محکمه نظامی زون بلخ و با اشتراک علماء کرام، محاسن سفیدان محل به تاریخ ۴/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق طی نشستی یک قضیه قتل مربوط باشندگان ولسوالی شولگره ولایت بلخ، حل و فصل گردید.

در این نشست بین جانبین قضیه مصالحه صورت گرفت، هردو جانب قضیه به یک دیگرشان ابراء عام و تام داده، تعهد نمودند که در قضیه متذکره در حال و آینده با هم دیگر هیچ گونه دعوی ندارند و نخواهند داشت.



تاریخ: ١٤٤٦/١/١٨ هـ ق

# فرمان و توصیه‌های عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد اقامهٔ نماز

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله ربّ العلمین والصَّلوة والسَّلام علی سیِّد المُرسلین وعلی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد: فقد قال الله تبارک و تعالی في محکم کتابه:[1]

ترجمه: بر همه نمازها مواظبت نمایید [به ویژه] بر نمازِ میانه (که نماز عصر) است و فروتنانه برای الله تعالی به پاخیزید (با ادب) [2]

**توصیه نخست**

برادران عزتمند و مسلمان، مسؤولین و مجاهدین امارت اسلامی!

برای همه‌تان این توصیه است که به نماز بسیار توجه نمایید، هیچگاهی آن را قضا نکنید و در وقت تعیین شده آن را ادا کنید؛ زیرا که:

**پس از ایمان، نخستین عبادت فرض شده، نماز می‌باشد:**

در دین مبین اسلام برای نماز جایگاه بسیار بلند داده شده‌است، پس از ایمان نخستین عبادتی را که الله تعالی به آن امر کرده، نماز می‌باشد.[3]

**در روز قیامت اول از نماز محاسبه خواهد شد:**

نماز عبادتی است که در روز قیامت از همه عبادات اولتر از آن بامسلمان محاسبه می‌گردد. رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) می‌فرماید: نخستین چیزی که با بنده در روز قیامت محاسبه میشود، نماز است؛ اگر نمازش درست بود و قبول گردید، بناءً سایر اعمال موصوف نیز درست بوده و قبول خواهد شد و اگر نمازش فاسد شد، سایر اعمال آن نیز فاسد خواهد شد.[4]

**نماز سبب قبولی سایر اعمال است:**

نماز سبب قبولی سایر اعمال می‌گردد؛ لذا هر مسلمان مؤمن باید تلاش کامل نماید که نماز را به گونه درست و کامل اداء کند؛ زیرا نماز کامل سبب موفقیت و کامیابی تمام اعمال می‌گردد ، کسی که نماز را حفظ کرد، دین را حفظ نموده و کسی که نماز را ضایع ساخت، سایر اعمال وی نیز ضایع خواهد شد.[5]

**نماز سبب نجات و روشنایی در روز قیامت است:**

رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) می‌فرماید: کسی که نماز را حفظ کند (که همیشه آن را به درستی با تمام حقوق آن اداء می‌کند)، موصوف در روز قیامت روشنایی، دلیل و نجات خواهد داشت، و اگر کسی نماز را حفظ نکند بناءً هیچ روشنایی، هیچ دلیل و هیچ نجاتی نخواهد داشت و نامبرده در روز قیامت با فرعون، هامان، قارون و ابی بن خلف برمی خیزد [6]

---

١ ـ سورة البقره ٢٣٨
٢ ـ تفسیر کابلی
٣ ـ قال الله تعالی ، ( سورة البقرة: ٣)

٤ ـ عن انس رضي الله تعالی عنه عن النبي صلی الله تعالی علیه وسلم قال : اول مایحاسب به العبد یوم القیامة الصلاة فان صلحت صلح له سائر عمله وان فسدت فسد سائر عمله ، رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحدیث (١٨٥٩) ج٢/٢٤٠ ( اول مایحاسب به العبد یوم القیامة الصلاة) ای المفروضة وهي الخمس لانهااول مافرض علیه بعد الایمان وهي علم الایمان وراية الاسلام ( فان صلحت ) بأن کان قد صلاها متوفرة الشروط والارکان القبول ( صلح له سائر عمله ) یعني سومح له في جنب ما واظب من إدامة السلاة التي هي علم الدین ( إن فسدت ) أن لم تکن کذلک ( فسد سائر عمله (١) اي ضویق فیه واستقصی فحکم بفساده واخذ منه الا ئمة أن حکمة مشروعیة الرواتب ذلک وذلک لأن الصلاة بمنزلة القلب من الإنسان فإذا صلحت صلحت الأعمال کلها وإذا فسدت فسدت .فیض القدیر شرح الجامع الصغیر(٥٥٠/٣ ) ط دارالحدیث قاهرة

٥ ـ عن عکرمة، عن عمر رضی الله تعالی عنه ، قال : جاء رجل ، فقال : یا رسول الله اي شيء احب عند الله في الاسلام؟
قال : الصلاة لوقتها ، ومن ترک الصلاة فلا دین له ، و الصلاة عماد الدین «رواه البیهقي في شعب الایمان (٣٠٠/٤)

٦ ـ وعن عبدالله بن عمروالعاص رضی الله تعالی عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم : انه ذکرالصلاة یوما فقال : من حافظ علیها کانت له نورا وبرهانا ونجاة یوم القیامة ومن لم یحافظ علیها لم یکن له نورا و الابرهانا و لانجاة وکان یوم القیامة مع قارون وفرعون وهامان وابي ابن خلف مشکوة المصابیح کتاب الصلوة الفصل الثالث (٥٩/١ ط امیرحمزه

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳